# مطبوعاتي اعلاميه

## له لوږې او وږنو سره مخ افغان ماشومان

د نومبر په ۳۰مه د افغانستان د شمالي ولایت، سمنګان د مرکز په یوه مدرسه کې چاودنه وشوه چې لږ تر لږه ۱۷ تنه یې ووژل او ۲۶ نور یې ټپیان کړل. ویل کېږي چې ډېری وژل شوي د ۹ او ۱۵ کلونو تر منځ ماشومان وو. په تېرو ۱۵ میاشتو کې د افغانستان په بلخ او کندوز کې پر مدرسو نور بریدونه هم شوي. په سپټمبر کې یوه بریدګر په پلازمېنه، کابل ښار کې پر یوه ښوونیز مرکز د برید په پایله کې شاوخوا ۵۰ نجوني او پېغلې ووژلې او لسګونه نورې یې ټپیانې کړې. د افغانستان ماشومان دغه راز د هغه ژور اقتصادي ناورین له امله له سختې لوږې سره مخ دي، چې په تېر اګست میاشت کې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د غربي استعماري قدرتونو له لوري پر افغانستان د بندیزونو له امله رامنځ ته شوی دی. پر مرستو دا متکي هېواد له نړیوالو مالي موسسو څخه بېل شو، مرستې وځنډېدې او د امریکا د بې ضمیره اداري له لوري یې لس میلیارډه ډالر شتمني کنګل شوه؛ دې چارې خلک له لویو مالي ستونزو سره مخ کړل. د ماشومانو د ژغورنې نړیوال سازمان په وینا، په افغانستان کې هره ورځ شاوخوا لس میلیونه ماشومان له لوږې سره لاس او ګرېوان دي او نږدې ۵۰ سلنه نفوس (۱۹،۷ میلیونه ماشومان او لویان) د ژوندي پاتې کېدو لپاره بېړنیو مرستو ته اړتیا لري. دولتي روغتونونه پر شدیده خوارځواکۍ له اخته ماشومانو ډک دی.

د افغانستان ماشومان او ځوانان له جګړې او نا امنۍ پرته بل څه نه پېژني، سبب یې څو لسیزې استعماري مداخلې او جګړې دي چې دا هېواد یې ویجاړ کړ او له دغو ماشومانو او ځوانانو سره یوازې د خپل ژوند وېره وه. دوی یا د خپل دین د زده کړې لپاره وژل کېږي او یا په داسې لوږه کې وي چې نه پوهېږي راتلونکې خواړه به کله ورورسېږي. د افغانستان وضعیت پر بهرنیو قدرتونو پورې د اقتصادي تړاو د پایلې بېلګه ده. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ كَمَثَلِ الْعَنكَبُوتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا وَإِنَّ أَوْهَنَ الْبُيُوتِ لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوتِ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ]**

**ژباړه:** *«کومو کسانو چې له الله سبحانه وتعالی پرته نور سرپرستان (مرستندویان) نیولي، د هغوی مثال د غنې په څېر دی چې خپل ځان ته یو کور جوړوي، خو تر ټولو کمزوری کور د غنې وي، کاشکې دا خلک پوهېدلای.»* [عنکبوت: ۴۱]

دا همدا راز هغه انزوا، کمزورتیا او زیانمنل ښیي چې د دولت ـ ملت فکر د پلي کولو په پایله کې راغلي؛ دا فکر د دې مخه نیسي چې د مسلمانانو سرچینې او شتمنې د مسلمانانو د اړتیاوو پوره کولو په موخه وکارول شي؛ د دغه فکر په پایله کې دولتونه یوازې د ځان غوښتونکو ملي، سیاسي او اقتصادي ګټو پر بنسټ عمل کوي. مورږ وکتل چې قطر له ۲۰۰ ملیاردو څخه ډېر ډالر پر نړیوال جام ولګول، په داسې حال کې چې د افغانستان او نورې اسلامي نړۍ ماشومان له لوږې مري. د دولت ـ ملت فلسفې د منلو په پایله کې انزوا دغه راز د استعماري حکومتونو لپاره زمونږ په خاورو کې لاسوهنه اسانه کړې؛ دوی ان زمونږ له لوږې، ویجاړۍ او ګډوډۍ څخه د خپلو ګټو لپاره کار اخلي.

څومره کلونه نور به د افغانستان، فلسطین، یمن، کشمیر او نورو ځایونو میندې او پلرونه د بې معنی تاوتریخوالي، جګړو او اشغالونو په سبب د خپلو اولادونو ویر ته کېني. تر کله به زمونږ ماشومان زمونږ د

سترګو وړاندې په داسې لاملونو وژل کېږي چې مخه یې نیولی شو؟ زموږ دین موږ ته راښيي چې څواک، پرمختګ او امنیت د یووالي له لارې راځي. دا ډول یووالی یوازې هغه وخت شونی دی چې د غرب لخوا تپل شوې مصنوعي پولې -چې زموږ اسلامي خاورې یې ویشلې- ړنګې کړو؛ د یوه داسې رهبر، دولت او ریښتیني اسلامي رهبرۍ – د نبوت پرمنهج راشده خلافت- تر سیورې لاندې راټول شو، چې د ځمکې پر سر اسلام هر اړخیز پلی کړي. دا یوازینی دولت دی چې د امت د ماشومانو له ژوند څخه به په یو ځل او د تل لپاره تیاره لرې کړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ]**

**ژباړه:** *«الله تعالی ستاسو له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی او نېک اعمال ترسره کوي، ژمنه کړې چې هغوی به پر ځمکه هماغه شان خلیفه‌ګان ګرځوي، لکه له هغوی وړاندې تېر شوي خلک یې چې ګرځولي وو. د هغوی لپاره به هغه دین پر کلکو بنسټونو ودروي چې الله تعالی ورته خوښ کړی دی. د هغوی د وېرې (اوسنی) حالت به په امن ورته بدل کړي. هغوی به یوازې زما بندګي کوي او له ما سره دې کوم شی نه شریکوي. څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همدا کسان فاسقان دي.»* [نور: ۵۵]

**ډاکتر نسرین نواز**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر - ښځو برخې مشره**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د جمادي الاول ۱۳مه**

**۲۰۲۲م کال، د ډسمبر ۷مه**

**د صدور ګڼه: ۲۱/ ۱۴۴۴**